الدرس الثامن | أتم درس
الجنة ونعيمها | جنت او د جنت نعمتونه

جنت نوم د هغه کور دی چی همیشه وی ، او د عزت ځائی وی چی الله تعالی د نیکانو بندګانو دپاره تیار کړی دی ، داسی داسی نعمتونه پکښې دی چی سترګو ندی لیدلی، غوږونو ندی آوریدلی، او د هیڅ انسان په زړه کښې د هغی خیال هم ندی تیر شوی:[فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ]{السجدة :١٧} ترجمه : یو نفس ته پته نشته چی مونږ د سترګو یخوالی دوی له پټ ساتلی دی ، بدله د هغه څه ده چی دوی کوم عملونه کوی ، د جنت ډیری درجی دی چی ایمان والو ته به د اعمالو په اعتبار ورکړی شی، الله تعالی فرمائی: يَرْفَعِ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا العِلْمَ دَرَجَاتٍ {المجادلة:١١} ترجمه: الله تعالی درجی اُوچتوی د هغه کسانو چی ایمان والا وی او خاوندان د علم وی ، جنتیان چی څه غواړی هغه به ورته میلاویږی، خوراک څښاک وغیره ، جنت کښې داسی نهرونه دی چی د هغی اوبه نه بدلیږی، داسی د پیوو نهرونه دی چی نه به بے خونده کیږی، او پاک صفا شهد پکښې دی، او د شرابو نهرونه دی چی څکونکي ته به لذت (خوند) ورکوی، دجنت او دنیا څښاک کښې ډیر فرق دی، الله تعالی فرمائی : [يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَأْسٍ مِنْ مَعِينٍ، بَيْضَاءَ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ، لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُونَ] {الصَّافات:٤٧} ترجمه : ګرځولی به شی په دوی باندی کاسی ډکی د خالص شرابو نه ، سپین ، مزه ورکونکی به وی څکونکو ته ، نه به وی په هغی کښې آفتونه او نه به دوی له د هغی نه التیځ ورځی ، د جنتیانو نکاح به د غټو سترګو والا حورو سره کیږی ، د هغی په باره کښې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : که د جنت یوه حوره دنیا ته راښکاره شی نو ټوله دنیا به د رنړه او خوشبوئي نه ډکه شی (رواه البخاری ) د جنتیانو دپاره به عظیم نعمت د الله سبحانه وتعالی ملاقات وی ، جنتیانو له به نه وړی متیازی او نه غټی متیازی ورځی ، او نه به بلغم وي او نه خراشکي، دسرو زرو ګمنزی به وی ، او د دوي خوله به د مشکو پشان بوئی لری ، د جنت نعمتونه به همیشه وی، هیچری به هم نه ختمیږی ، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : څوک چی جنت ته داخل شی هغه به په نعمتونو کښې همیشه وی ، نعمتونه به نه محرومیږی ، کپړی به ئے نه زړیږی ، او نه به ځوانی ختمیږی . (مسلم)
جنت کښې به د ټولو نه کمه حصه د هغه چا وی چی جنت ته به آخری ور داخلیږی د هغه حصه به ددی دنیا لس چنده وی (الله سبحانه وتعالی ډی مالا او زما سره ټولو هغه څوک چی پدی کتاب کښې راسره مدد کړی دی او هغه څوک چی دا کتاب لولی او عمل ورباندی کوی ټولو له جنت الفردوس را نصیب کړی آمین یا رب العالمین